مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۶/۱۳

پښتونولي

د تنظيمي جګړو اوږدي ورځې وې. خوست ته روان وو. جنګي ډلو د کابل خوست لاره بنده کړې وه. موږ مجبور وو، چې د پېښور په لاره مېرانشاه ته او له هغه ځايه خوست ته ولاړ شو. تر تورخمه پورې په هر پاتِك کي به توپکوالو له موټرونو پيسي اخيستلې. هماغه مجاهدانو چې د خداى او قران په پار يې جهاد کړى و، د موټروانانو د خداى پار ناري نه اورېدلې، يوازې يې پيسي پېژندلې، نور هر څه ځُني هېر وو.
مازديګر مهال پېښور ته ورسېدو. شپه مو په بورډ کي د ترور کره تېره کړه. سهار وختي د مېرانشاه اډې خوا ته په ټېکسي کي روان شو. له ما سره مې مور، خورکې او دوه ورونه راسره وو. ګورا قبرستان ته چې ورسېدو، دوو پوليسانو موټر ودراوه، يو يې دنګ ډنګر، بل يې لنډى مزى. لنډي پوليس پوښتنه وکړه: چېرته ځئ؟ ورته مې وويل: مېرانشاه ته.
_ مهاجر يې؟
_ هو.
_ شناختي پاس لري؟
_ نه.
ډنډه يې چې په ښي لاس کي يې نيولې وه، د چپ لاس په ورغوي کراره کراره ووهله. ويې ويل: ښه نو چې مهاجر هم يې شناختي پاس هم نه لري اوس ته ووايه چې څه درسره وکم.
ما ورته وويل: وينې چې زنانه راسره دي. که پښتون يې نو پښتونولي راسره وکه.
پوليس ډرېور ته وويل: ځه مړه! پښتونولي چې رانه غواړي، شابه ورځه.
ما چې د خپل هېواد د جګړه مارو ظلمونه ليدلي وو او د پاکستاني پوليسو د شکولو کيسې مې اورېدلې وې، ګومان مې نه کاوه چې د پښتونولي پروا دي څوك ولري. همدغه پوليس به ډېر افغانان شکولي وي، له ډېرو به يې پيسې اخيستې وي؛ خو زما په دې خوښ شو، چې يوازې د پښتونولي په پار يې خوشې کړم.
د مېرانشاه په فلاينګ کوچ موټر کي سپاره شوو. په هر سيټ کي به څلور کسان کېناستل. ما هم يو سيټ ونيو. موږ پينځه کسان وو. کلينر رټ شو، چې د پينځو کسانو کرايه به پرې کوئ. په اډه کي سپرلۍ کمې وې، نو کلينر غوښتل چې په دې ډول کرايه پوره کړي. موږ سره هماغومره پيسې وې، چې د څلورو کرايه ورکړو، هسې هم وړکى وروړ مې د اوو اتو کالو و، کلينر ته مې وويل چې هغه به په غېږ کي کېنوم؛ خو هغه همدا يوه ټينګه کړې وه، چې نه کېږي. له شرمه مې دا هم ورته نه شو ويلاى چې نورې پيسې راسره نشته. لانجه مو سره اوږده شوه. تر ګرېوانه يې ونيوم. اخر چې پوه شوم چې کلينر له پيسو نه تېرېږي، نو ورته مې وويل: سمه ده پيسې به درکړو، خو په مېرانشاه کي به دته خپلو ته راسره ځي. پيسې به هلته درکړم.
کلينر وويل: ولې هلته؟
ما ورته وويل چې پيسې راسره نشته، هلته مې د تره کور دى. له هغه به يې واخلم.
د کلينر د تندي ګونځي ړنګې شوې، ويې ويل: مړه، خو داسې ووايه چې پيسې نه لرم. بې غمه کېنئ نورې پيسې نه درنه غواړم.
پښتونولي کومه لويه توره نه غواړي، په ډېرو اسانو کارونه هم خپله پښتونولي ښييلى شو. زه هم د کلينر او هم د هغه پوليس احسان او پښتونولي منم.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ